مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۱٤مه | د ۲۰۲۰ د فبروري درېیمه | ۵۰۷مه ګڼه

# د بشري حقونو خپلواک کمېسیون: ملکي مرګ ژوبله د حکومت مشروعیت له پوښتنې سره مخ کوي



۲

امریکا ته یو واضح پیغام
۲ مخ

تاریخ او د جبر کرښې- ډیورنډ
۲ مخ

که له ژوند خوند اخلی، نو سفر وکړئ
۵ مخ

## اجرایه ریاست: د نویو وزیرانو او والیانو د معرفي کېدو په موخه مو مشورې پیل کړې دي

د ولسمشر له لوري د تازه ګومارنو او په ځانګړې توګه په بهرنیو چارو وزارت کې وروستیو اصلاحاتو او ګومارنو اجرایه ریاست متقابل غبرګون ته اړ کړی دی.

ویل کېږي چې اجرایه رییس غواړي د ولسمشر غني د دغه اقدام په غبرګون کې د کابینې د پنځو وزیرانو او د اتو ولایتونو د والیانو د معرفي کېدو لپاره ځانګړی فرمان صادر کړي.

که څه هم د عبدالله عبدالله له لوري د معرفي کېدونکو چاروا‌کو نوموونه نه دي په ډاګه شوي، خو اجرایه ریاست وایي، په دې تړاو سلا مشورې پیل شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملي یووالي حکومت په تېره پنځه کلنه دوره کې د وزیرانو، والیانو او سفیرانو د معرفي کېدو موضوع د ولسمشر او اجرایه رییس تر منځ جنجالي مسئله وه چې له امله یې د کابینې ډېری وزارتونه د سرپرستانو له لوري اداره شول.

د ثبات او همپالنې ټاکنیز ټیم غړي وایي، ورمه ورځ په اجرایه ریاست کې د افغان سولې لپاره د امریکا له ځانګړي استازي سره هم په دې تړاو خبرې شوې او خلیلزاد ویلي چې د ټاکنو د پایلو تر اعلان پورې د ملي یووالي حکومت پر خپل ځای دی.

خو ولسمشرۍ ماڼۍ د اجرایه ریاست په دې اقدام شدید غبرګون ښیي او وایي چې ولسمشر د افغانستان جمهوري دولت مشر دی او د لوړپوړو چارواکو د عزل او تعینولو صلاحیت یوازې ولسمشر لري.

## ایران هڅه کوي چې په افغانستان کې امریکایي اهداف په نښه کړي




۵ مخ

## هېواد

۴ مخ

### مالدیف

توریزم د مالدیف د اقتصاد غټ سکټور دی، چې د هېواد ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات او ٦۰ سلنه بهرني اسعار برابروي. د دغه هېواد د دولت ۹۰ سلنه مالیاتي عواید له ګمرکي محصولاتو او توریزم څخه لاس ته راځي.



### کرنې ریاست: د ننګرهار په شېرڅو ولسوالیو کې ۱۲ سوه جریبه بڼونه جوړېږي



په هېواد کې د بڼوالۍ د پراختیا د هڅو په دوام، د کرنې او مالدارۍ وزارت د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژې «CBARD» له خوا د ننګرهار ولایت په شپږو ولسوالیو کې ۱۲ سوه جریبه بڼونه جوړېږي.

د ننګرهار د کرنې ریاست چارواکو ویلي چې د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژې له خوا د دغه ولایت په شپږو ولسوالیو «رودات، کوټ، چپرهار، اچین، خوږیانو او شېرزادو» کې د ستروسو، انارو، املوکو، شفتالو، مڼې، چهارمغزو او الوچې ۱۲ سوه جریبه بڼونه جوړېږي، چې له دې ډلې ٦۳ جریبه یې متراکم بڼونه دي. د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژه «CBARD» پر دې سربېره چې کروندګرو ته به تصدیق شوي نیالګي ورکړي، له هغوی سره د باغونو په نقشه اچولو، د اوبولګولو د سیستم په جوړولو او د بڼوالۍ د مدیریت اړوند ځینو نورو برخو کې هم تخنیکي او فني مرستې کوي.

### خلیل‌زاد در دیدار با حامد کرزی: امریکا به مذاکرات صلح خوشبین است



ارگ ریاست‌جمهوری و دفتر حامد کرزی، رئیس‌جمهور پیشین دیدگاه‌های متفاوتی را از گفته‌های زلمی خلیل‌زاد دربارهٔ گفت‌وگوها با طالبان ارایه کرده‌اند.

دو روز پیش، ارگ ریاست‌جمهوری در اعلامیه‌یی گفت که خلیل‌زاد در دیدارش با رئیس‌جمهور غنی گفته‌است که در گفت‌وگوها با طالبان «پیشرفت قابل ملاحظه صورت نگرفته‌است»، اما، دیروز (یک‌شنبه، ۱۳ دلو) دفتر رسانه‌های حامد کرزی گفته است که خلیل‌زاد در دیدارش با آقای کرزی «از پیشرفت در گفت‌وگوهای صلح ابراز خوشبینی» کرده‌است.

در همین حال، عمر زاخیلوال، سفیر پیشین افغانستان در پاکستان نیز پس از دیدارش با زلمی خلیل‌زاد، در تویتی گفته‌است که از پیشرفت دل‌گرم کننده در گفت‌وگوهای صلح با طالبان شنیده‌است. این در حالی است که ارگ ریاست‌جمهوری افغانستان و ایالات متحده، بر «کاهش خشونت» و «آتش‌بس» نیز دیدگاهٔ واحدی ندارند.

ریاست‌جمهوری افغانستان، برقراری آتش‌بس را از سوی طالبان پیش شرط گفت‌وگوهای صلح گفته‌است، اما مقام‌های امریکایی گفته‌اند که حتا کاهش خشونت‌ها از سوی طالبان که در نهایت منجر به آتش‌بس شود نیز پذیرفتنی خواهد بود.

آقای خلیل‌زاد، با عبدالله عبدالله، رئیس اجراییه و شماری از سیاسیون دیگر نیز دیداری جداگانه‌یی داشته‌است.

ریاست اجرائیه، پس از دیدار رئیس اجرائیه با خلیل‌زاد، گفته‌است که آقای خلیل‌زاد دست‌یافتن به صلح را در افغانستان از اهداف اصلی ایالات متحده خوانده است.

Aksos Book Stote
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
Aksos Book Store
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
0798-98-9696, 0202504652

## دريـځ

# امریکا ته یو واضح پیغام

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمي خلیلزاد په کابل کې دی او دلته یې له حکومتي او سیاسي مشرانو سره لیدلي دي. ارګ وایي، خلیلزاد ورته ویلي چې له طالبانو سره په خبرو کې پرمختګ نه دی شوی، خو پخوانی ولسمشر حامد کرزی وایي چې خلیلزاد له طالبانو سره په خبرو کې له پرمختګ څخه خوښي څرګنده کړې ده.

د سولې د خبرو په اړه چې څه واضح دي، هغه دا دي چې اوس په دې خبرو کې پرمختګ نشته او له یوه خنډ او ځنډ سره مخ دي. طالبان وایي چې امریکا وخت ضایع کوي او طالبانو ته نوي شرطونه وړاندې کوي. امریکا له طالبانو غوښتي وو چې تاوتریخوالی کم کړي، طالبانو له خپلمنځي مشورو وروسته همدا پرېکړه وکړه، خو امریکا له طالبانو نوې غوښتنې کړې دي. دا چې دا نوې غوښتنې څه دي، معلومه نه ده، خو طالبان له دې امله غوسه دي چې خلیلزاد نوې غوښتنې کوي او یا پر داسې مسایلو بحث کوي چې یوازې ورسره وخت ضایع کېږي.

له دې سره د امریکا له اړخه په بریدونو کې بې ساری زیاتوالی راغلی دی. له څو میاشتو نسبي ارامۍ وروسته امریکایي ځواکونو په کلیوالو سیمو کې خونړي بریدونه کړي، ښځې او ماشومان یې وژلي دي. دا په واضح ډول د سولې ضد او د جګړې د دوام پیغام دی. که څه د طالبانو له اړخه په ښارونو کې چاودنې او لوی بریدونه نه دي شوي، خو وېره ده چې که هوایي بریدونه دوام وکړي، طالبان به هم دا بریدونه بېرته پیل کړي. په دې سره یو ځل بیا ملکي مرګ ژوبله زیاتېږي او جګړه ګرمېږي. د جګړې دا شدت مخامخ د سولې پر پروسه منفي اغېز کوي. هغه پرمختګونه له منځه ځي چې تر اوسه پورې شوي دي. د دې ترڅنګ د باور او حسن نیت فضا لا زیاته خرابېږي او دواړه لوري به د خپل قوت د ښودلو لپاره لا زیات پر جګړه، وژنو او بریدونو ټینګار وکړي.

له همدې امله دغه حالت ته یو پیاوړی غبرګون پکار دی. اوس داسې ښکاري چې د سولې خبرې په واضح ډول د امریکا له خوا له خنډ او ځنډ سره مخ شوې دي. له همدې امله پکار ده چې پر امریکا فشار راشي. لومړی باید طالبان له خلکو سره جزیات شریک کړي او د امریکا د نوو غوښتنو په تړاو معلومات ورکړي. له هغه وروسته باید افغان سوله غوښتونکي سیاستوال او خلک په ګډه امریکا ته یو واضح پیغام ورکړي او هغه دا چې د افغانستان ولس سوله غواړي او که امریکا دا سوله نه کوي، نو خلک به د سولې لپاره پر نورو لارو چارو فکر او کار وکړي. خلیلزاد ته باید همدا پیغام ورکړل شي چې خلک نور دا امریکایي جګړه، وحشت، وژنې او د بې ګناه خلکو قتل عام نه شي زغملی. له همدې امله باید له طالبانو سره شوې هوکړه نهایي کړي او لاسلیک یې کړي. له دې پرته خلک درک کوي چې د سولې پر وړاندې اصلي خنډ امریکا ده او خلک به بیا په افغانستان کې د امریکایي حضور پر ضد په کلکه ودرېږي او د سولې دا خنډ به له منځه یوسي.

## د بشري حقونو خپلواک کمېسیون:

# ملکي مرګ ژوبله د حکومت مشروعیت له پوښتنې سره مخ کوي



په روانه جګړه کې د ملکي مرګ ژوبلې لوړېدو د بشري حقونو د کمېسیون اندېښنې ډېرې کړې دي. د دغه کمېسیون غړي وایي چې د تېر کال د دریو وروستیو میاشتو په پرتله د روان ۲۰۲۰ ز کال په لومړۍ میاشت کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله لوړه شوې چې دا مسئله د اندېښنې وړ ده. کمېسیون وایي چې د حکومتي او بهرنیو ځواکونو په بریدونو کې ملکي مرګ ژوبله په هېڅ صورت د توجیه وړ نه ده او د حکومت مشروعیت له پوښتنې سره مخ کوي. کمېسیون پر ښکېلو لورو غږ کوي چې ژر تر ژره د ملکي مرګ ژوبلې مخه ونیسي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو ورځو کې د بهرنیو او افغان ځواکونو هوایي بریدونه ډېر شوي دي. په دغو بریدونو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله هم لوړه شوې ده. په همدې څو ورځو کې په وردګو، بلخ، کندوز، بغلان او بادغیس ولایتونو کې د هوایي ځواکونو په بریدونو کې ګڼو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې چې د بشري حقونو په برخه کې د فعالو بنسټونو غبرګون یې هم له ځان سره لرلی دی. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم تازه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پر ډېرېدو اندېښنه او خواشیني څرګنده کړې ده. د دغه کمېسیون ویاند او غړی شکرالله مشکور وایي، د تېر ۲۰۱۹ز کال په وروستیو دریو میاشتو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله کمه شوې وه، خو د روان میلادي کال په لومړۍ میاشت کې دغه مرګ ژوبله اوج ته رسېدلې ده. د ده په خبره، د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لوړېدو جدي اندېښنې را ولاړې کړې او حکومت باید په دې اړه ځواب ویونکی وي. نوموړي ویلي: ((د ۲۰۱۹ ز کال په وروستیو دریو میاشتو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله کمه شوې وه، خو د روان میلادي کال په لومړۍ میاشت کې لوړه شوې ده. دې مسئلې موږ ته نوې اندېښنې پیدا کړې دي. په دې اړه په راتلونکو دوو ورځو کې خپل ټول معلومات له رسنیو سره شریکوو)).

مشکور وایي، د جګړې په ډګر کې د ښکېلو لورو لخوا ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي، خو د حکومتي ځواکونو له لوري د ملکي تلفاتو په کچه کې ډېروالی د جدي اندېښنې وړ دی. د ده په خبره، دا مسئله د حکومت او خلکو ترمنځ واټن ډېروي او د دې لامل کېږي چې د حکومت مشروعیت له پوښتنې سره مخ شي.

د ملکي تلفاتو وروستۍ پېښه په بادغیس کې رامنځ ته شوه چې په هغه کې د یوې کورنۍ څو غړي د هوایي ځواکونو په بمبار کې ووژل شول. د بادغیس د ولایتي شورا غړي وایي چې پېښه د دغه ولایت په مقر ولسوالۍ کې رامنځ ته شوې، چې یوه ښځه او دوه ماشومان پکې وژل شوي دي. دغه ډول پېښې د بشري حقونو د مدافعو بنسټونو له لوري غندل شوې دي. په ورته وخت کې پخوانی ولسمشر حامد کرزی هم پر ښکېلو لورو غږ کوي چې د ملکي وګړو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي او په وینا یې، جګړه د روان کړکېچ د حل لار نه ده. هغه ټینګار کوي چې د جګړې پر ځای دې د سولې له پروسې سره همکاري ډېره شي.

له دې سره هممهاله ملي دفاع وزارت وایي چې دوی د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه خپاره شوي راپورونه او پېښې څېړي او معلومات به یې وروسته له رسنیو سره شریک کړي. د دغه وزارت مرستیال ویاند فواد امان وایي، افغان ځواکونه هڅه کوي چې تر خپلې وسې ټول عملیات په دقت ترسره کړي او د ملکي وګړو مرګ ژوبله راکمه کړي.

تر دې وړاندې نړیوالو بنسټونو هم په افغانستان کې د ملکي مرګ ژوبلې په اړه اندېښنه ښودلې وه. د ښځو نړیوال سازمان او د بشري حقونو نړیوال سازمان هم پر دې ټینګار کړی و، چې د سولې خبرې دې پایلې ته ورسېږي، جګړه دې ختمه شي، تاوتریخوالی دې کم شي، څو په دې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې مخنیوی وشي.

# عباس: د منځني ختیځ د سولې لپاره د امریکا نوی پلان پر نړیوالو تړونونو د تېري په مانا دی



د فلسطیني ادارې مشر محمود عباس ویلي، د منځني ختیځ د سولې لپاره د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ د پلان پر وړاندې په غبرګون کې به له اسراییلو او د امریکا له متحده ایالتونو سره ټولې اړیکې پرې کړي.

عباس په قاهره کې ویلي چې د ټرمپ د ادارې له لوري جوړ شوی پلان پر ټولو هغو تړونونو تېری کوي، چې اسراییلو او فلسطین په ۱۹۹۳ میلادي کال کې په اسلو کې لاسلیک کړي وو.

هغه دغه راز ویلي چې له امریکا او اسراییلو سره به هېڅ اړیکې نه لري، حتی په امنیتي برخه کې هم.

عباس زیاته کړې چې هېڅکله به دا پلان ونه مني او نه غواړي چې په تاریخ کې دا ورسره ولیکل شي چې بیت المقدس یې خرڅ کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر د جنورۍ په ۲۸مه د منځني ختیځ د سولې پلان اعلان کړ.

د دغه پلان پر اساس، اسراییل د اردن رود د لوېدیځې غاړې په سیمه کې ټول یهودي مېشت ځایونه ور جلا کوي او د اردن دره به هم د اسراییلو وي. د یادونې ده چې په لوېدیځه غاړه کې د اسراییلو مېشت ځایونه نړیوالې ټولنې غیر قانوني ګڼلي دي.

د یاد پلان پر اساس به فلسطینیان په غزه کې محدوده خپلواکي لري، په لوېدیځه غاړه کې به یې خال خال سیمې وي او د بیت المقدس په څنډو کې ځینو سیمو ته به اجازه لري.

اسراییل به د سیمې د ټولو نړیوالو سرحدونو خاوند وي، هوایي حریم به د اسراییلو په لاس کې وي او د ټولې سیمې د امنیت مسوولیت به هم لري.

د امریکا د ولسمشر د پلان پر اساس، په ۱۹۴۸ میلادي کال کې د جګړې له امله د بې ځایه شوو فلسطینیانو کورنۍ هم نه شي کولای چې بېرته فلسطین ته ستنې شي. فلسطینیانو تل غوښتنه کوله چې د هغو بې ځایه شوو خلکو لمسیانو او کړوسیانو ته دې بېرته د ستنېدو حق ورکړل شي.

په ورته وخت کې وړمه ورځ د عربي ټولنې د غړو هېوادونو استازو په قاهره کې د ټرمپ د دغې پرېکړې په غبرګون کې غونډه وکړه.

د عربي هېوادونو ټولنې او عرب لیګ د منځني ختیځ د سولې پلان چې د امریکا ولسمشر یې اعلان کړی، رد کړی او هغه یې غیر منصفانه بللی دی.

عرب لیګ په قاهره کې د بېړنۍ غونډې په پرېکړه لیک کې ویلي چې د امریکا او اسراییلو ګډ پلان د فلسطینیانو له غوښتنو سره په ښکاره توګه په ټکر کې دی.

# فېروز: له چین څخه د افغان محصلینو د رالېږد لپاره بشپړ چمتووالی نیول شوی



د عامې روغتیا وزیر فېروز الدین فېروز ویلي، له چین څخه د افغان محصلینو د رالېږد لپاره بشپړ چمتووالی لري او ولسمشرۍ ماڼۍ الوتکه هم ورته تیاره کړې ده.

هغه ویلي چې د چین په ووهان ښار کې د ۴۱ افغان محصلینو او د دوی د کورنۍ له غړیو څخه یو هم د کرونا پر وژونکي ویروس نه دي اخته شوي.

نوموړي چې پرون یې په کابل کې یوې خبري غونډې ته خبرې کولې، ویلي چې دوی له چین څخه د افغان محصلینو د رالېږد لپاره بشپړ چمتووالی لري او ولسمشرۍ ماڼۍ ورته چارتر الوتکه چمتو کړې ده.

هغه زیاته کړې: «افغان دولت او موږ په دې هڅه کې یو چې دا افغانان را انتقال کړو، جمهوري ریاست چارتر الوتکه چمتو کړې، زموږ روغتیایي ټیم چمتو دی چې ووهان ته ولاړ شي او زموږ محصلان افغانستان ته انتقال کړي او موږ د قرنطین زمینه هم ورته برابره کړې ده.»

فېروز دغه راز ویلي چې د روغتیا نړیوال سازمان سپارښتنه دا ده چې تر څو بېړنی حالت نه وي ختم شوی، باید له ووهان ښار څخه بهرني وګړي که هغه د هر هېواد وي، انتقال نشي.

عامې روغتیا وزارت ویلي، دوی په دې برخه کې جدي تدابیر لري، په ځانګړې توګه هغه کسان چې له چین څخه هېواد ته راځي.

په ورته وخت کې یاد وزارت ۳۰۰ بستره له چین څخه هغو احتمالي لېږدوونکو کسانو ته پام کې نیولي چې تمه ده افغانستان ته راشي.

له دې ټولو سره سره، عامې روغتیا وزارت ویلي، د چین په ووهان ښار کې د ۴۱ افغان محصلانو او د دوی د کورنۍ له غړیو څخه یو هم د کرونا پر وژونکي ویروس نه دي اخته شوي، خو د دوی انتقال بیا هم د ۳۰ میلیونو کسانو ژوند ګواښي.

د روغتیا نړیوال سازمان استازي ډاکتر محمد داوود الطاف په دغه ناسته کې ویلي، هغه افغانان چې له چین څخه افغانستان ته انتقالېږي، معاینات یې ډېر ډاډه نه دي او ممکن د دغه ویروس پېښې افغانستان ته هم را ولېږدول شي.

# تاریخ او د جبر کربښې- ډیورنډ

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

کله چې مې د یوه ماشوم په توگه د نړۍ له رنگینې انځورگرۍ ډکه نقشه او بیا د همدغه رنگینو ویش په ځانگړې هنر سره ولیدو، نو حیرت یوړم، ولې کله چې غټ شوم نو وپوهیدم چې دغه په تورو او پېچلو کربښو کې وېشلې نړۍ هغومره هم نه ده ښکلې، بلکې دا ټوټې د یوه داسې کیک برخې دي، چې د وخت هر زر او زور لرونکي فرعون یې د بشپړ خوړلو په نیت عالمونه پرې تار- مار کړي دي.

ډېر وړاندې نه ځو، په دې نږدې تاریخ کې یوازې د لومړۍ نړیوالې جگړې په ترځ کې چې په ۱۹۱۴ ز کال کې د بالکان له سیمې پیل او په ۱۹۱۸ ز کال کې پای ته ورسېده، په پایله کې یې ۱۷ میلیونه انسانان مړه او تر ۲۰ میلیونو ډېر ټپیان شول، هغه چې د دغې جگړې د نورو عواملو تر څنگ یو مسئله د هېوادونو تر منځ له استعماري کښالو، عقدو او ټکرونو ډک سرحدونه وو.

د بېلگې په توگه، د اسلامي فلسطین تاریخي قضیه چې اوس یې تازه د ټرمپ په مشرۍ د عیسوي امریکا له لوري د تمدني ټکر رنگ خپل کړی او امریکا چې نیمه پیړۍ یې د اسراییلو د صهیونیستي یهودي اشغال، وژنو او یهودي مذهبي وحشتکارۍ مالي، سیاسي او تسلیحاتي ملاتړ کاوه، په یوه بې شرمانه او د ملگرو ملتونو او امنیت شورا د ټولو هوکړو او پرېکړو خلاف یې د پیړۍ د معاملې په نوم د فلسطین په څېر د یوه لسگونه زره کلن تاریخي ملت د ورکولو، تباه کولو او بې هویته کولو شرموونکې طرحه وړاندې کړه او ټینگار کوي چې د امریکا د اشغال او جبر په مذهب کې پر اشغالگرانه لاس ته راوړنو هر ډول معامله کفر او په دې اړه د چا پروا هم نه لري.

بل لور ته تاریخ د جبر نوم نه دی، تاریخ بد نه ستایي، ملتونو په تاریخ کې د متمدینو انسانانو ډېر خیال ساتلی، تاریخ چنگیز محکوم کړی، مگر د مغولي اکبر پاچا روښانفکره او پر ټولنیزو- انساني ازادیو ولاړ لیدلوری، چلند او کردار یې ښه یاد کړي. د اپارتایډ خلاف د نېلسن مانډیلا مقاومت، له ایټالوي یرغل سره په گرم سنگر کې د عمر مختار ملتپاله جد و جهد او د هند په وچه کې د باچاخان او گاندي د عدم تشدد له فلسفې سره یې په فلسطین او گرده اسلامي نړۍ کې کله هم د اخوان المسلمین پر متجدیدانه سیاسي- اسلامي لیدلورو گام نه دی اېښی.

ولې جبر، نیواک، تاړاک او له انساني مزاج او کرامت سره په دښمنۍ کې جریانونو تل نړۍ او انسان ته د بد رنگۍ یو اوږد او ککړ کردار د جیوپولیټیکې بحثونو پر محور پرېښی.

د بېلگې په توگه، د کوریا ټاپووزمه چې د یو اوږد او گډ تاریخ خورا پراخه مخینه لري، مگر د پردو سیاستونو په لړ کې د بېلېدو کیسه یې لا نیمه پېړۍ وروسته هم گرمه ده، دواړه شمالي او سهیلي کوریا له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۳ ز کلونو جگړو را وروسته، لا تر اوسه هم یو بل ته په سنگر کې ناست دي او ډېر کله یې خبره د اټومي ټکر تر گواښه هم رسیږي.

د اوکراین او روسیې کړکېچ د کریمیه پر سر، د هند او چین تر منځ سرحدي کښاله له ۱۹٦۲ ز کال څخه د همالیا او کشمیر په سیمه کې، د هند او بنگلادیش سرحدي ټکر، د عراق او ایران تر منځ سرحدي کړکېچ چې بیا په ۱۹۷۵ ز کال کې د الجزایر د هوکړې په لاسلیک سره په نیسبي توگه پای ته ورسېد، د کینیا او سومالیا تر منځ د التنقیب په سرحدي نفتي سیمه کې پېچلتیا چې ډېر کله خبره د یو او بل د سفیرانو تر شړل کېدو او غوښتلو هم رسیږي، د روسیې او گرجستان په پولو کې کښاله، هغه مسئله چې له سیاسي، نظامي، امنیتي او اقتصادي پلوه گرجستان د تاریخ په اوږدو کې د روسي یرغلگرو لپاره د سیاسي جغرافیې په بحث کې سره کرښه وه، ولې دغه لړۍ د شوروي له نړېدلو او روسیې ته د دغه میراث له لېږدېدو سره نوی بحث خپل کړی، روسیې په خپل ۸۰۷ کیلومتره پوله کې گرجستان ته په چیچین، اینگوشیا، شمالي اوستیا، قره چای، کاباردا او ادیغیه کې د بېلتون پالنې څپې راپورته کړې.

تورې بهیرې ته د روسیې لار او د گرجستان موقعیت د قفقاز په سیمه کې هغه مهم ستراتیژیک بحثونه دي، چې پرونې تزاریان او نننې روسان تل کوښښ کوي، څو په گرجستان کې لکه د پاکستان د ستراتیژیکي ژورتیا د سیاستونو پر بنسټ روسان د گرجستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي.

همدارنگه اریتره چې وروسته له دریو کلونو جگړې په ۱۹۹۳ ز کال کې خپلواکه شوه، ولې په ۱۹۹۸ ز کال کې د اریترې او اتیوپې تر منځ د بادمي په نوم سرحدي ښارگوټي پر سر شخړو بیا زور واخیست او له دې سره د دواړو هېوادونو تر منځ سیاسي اړیکې ترینگلې او د شکېدو تر درشله لاړې، هغه چې تر ۲۰۰۰ ز کال پورې د الجزایر په توافق سره چې ۸۰ زره خلک پکې ووژل شول، پای ته ورسېدې.

امارات همدا اوس له قطر سره په خور العدید کې سرحدي ستونزه لري، همدارنگه له عمان سره د مسندم په سیمه کې د اماراتو او عمان تر منځ غټه ستونزه ده، د دې ستونزې اصلي جرړه هغه استعماري وېش ته گرځي، چې د عمان یوه برخه یې له داخل څخه اماراتو ته ور پرې کړې او همدارنکه د مسندم د اردن برخه بیا په اماراتو کې قرار لري چې دې دواړو غټه ستونزه پېښه کړې ده.

نړۍ په دې برخه کې د استعماري ذهنیت او فتنې له شره نه خلاصیږي؛ بلکې دا کیسه ډېره اوږده ده، د جبر کربښو ملتونه په قومي منازعو لکه د سهیلي قفقاز دولتونه اړولي، دې کار بیا له دوی څخه سوله، ټیکاو، اقتصادي پراختیا او ښه گاونډیتوب اخیستی او د دغو لانجو له امله د اذربایجان او ارمنستان په څېر هېوادونه تل خپله زیاته برخه لگښتونه احتمالي جگړو او ټکرونو ته د لښکرو په چمتو کولو او د نویو وسلو په پېر تېروي.

د بېلگې په توگه، په ۱۹۹۸ ز کال کې د اذربایجان د خودمختارۍ او اکثریت ارمنۍ سیمې له خوا له ارمنستان سره د یوځای کېدو مسئلې، دا هېوادونه پر مرگونو جگړو واړول.

د چین او روسیې، د سوډان او مصر، د سوریې او اسراییلو او حتی د هند او پاکستان په کشمیر کې مشهوره کښاله ټول هغه تاریخونه دي چې د نړۍ له رنگینې نقشې څخه یې هغه ربښتینې ښکلا، امن، زغم، د تمدني او کلتوري راکړې ورکړې په گډون، خورا بې ساري فرصتونه او خوښۍ تروړلې او دا ټول ټپونه په تر هغه تازه او ناسور وي، تر کله چې استعماري جبر ژوندی وي.

**د تاریخ جبر او له پنجاب سره زموږ د څه کولو دریځ!**

د تاریخ او جبر په بحث کې افغانستان تل د ځانغښتونکو، جگړه مارو، استعمارگرو او د زماني د بدمخو ځواکونو په ټکر کې گیر شوی، مات شوی او حتی خبره کله کله د گران وطن د سیاسي، فلسفي او جغرافیایي وجود د لولپه کېدو او شړېدو تر بریده هم رسېدلې.

د بېلگې په توگه، په یو نهایت بد گام کې د امیر محمد یعقوب خان او انگریز تر منځ د افغانستان د وېشنې تړون د گندمک په نوم او د هغه په دوام په ۱۸۹۳ ز کال کې د امیر عبدالرحمن خان له لوري په یوه ناسنجول شوي او قدرت طلبانه کردار کې د ډیورنډ هوکړه چې د افغانستان پېچلي جیوپولیټیک ته په کټو سره، د وخت تاړاکگر ځواک برېټانوی هند وتوانېده چې د لوی هند د ټوټه کولو او پاشلو له لارې دغه سوله ییزه سیمه د تاریخ پر یوه ناسور بدله کړي، چې هغه د پنجابي اسټبلشمینټ پر محور د مذهب په عنوان د پاکستان رامنځ ته کېدل د یوه متنازع امنیتي رژیم په توگه وو.

هغه وخت د مسیدو ملا پیونده اخند هغه لومړی پښتون و، چې د فرنگ پر ضد یې د بغاوت بیرغ اوچت کړ، د امیر عبدالرحمن خان دربار ته یې د قبایلو د مشرانو چیغه ورسوله او په لوړ غږ یې وویل چې د پښتون وطن قبایلي څنډه ستا د پلار محمد افضل ملکیت او وراثت نه دی، چې په سخاوتمندانه روحیه یې د انگریز په پطنوس کې د لندن دربار ته سوغات کړې.

دلته که څه هم زموږ د بحث موضوع د افغانستان د جغرافیاوي موقعیت ارزښت بیانول نه دي؛ خو بیا هم افغانستان د سیمې په یوه داسې تقاطع برخه کې پروت دی، چې امریکایي افغان پېژندونکی لویس ډوپري(Louis Dupree) یې د سوداگرۍ (ټرانسشیپمنټ) تقطع گڼي. معاصر انگریز مورخ او فلسفي آرنلډ ټواین( .ArnoldJ Toynbee) بیا د نړۍ نیمې لارې باگرام ته سیخې گڼي او د زړې نړۍ راتاوېدونکی هېواد یې گڼي. علامه اقبال یې د اسیا زړه گڼي، میکېنډر یې د خپلې (Heartland) تیورۍ داسې ځای بولي، چې له کبله یې پر نړۍ واکمني اسانه ده. همدارنگه ځینو نورو فیلسوفانو او مورخانو هم د افغانستان دغه جغرافیاوي موقعیت ته په کتو، په خپلو لیکنو کې اشارې کړې دي او دا موقعیت یې په ښه توگه درک کړی دی.

ځکه افغانستان د منځنۍ اسیا، سویلي اسیا او منځني ختیځ تر منځ پروت هېواد دی او له دغو سیمو څخه په اقتصادي، سیاسي، نظامي او کلتوري برخو کې اغېزمن دی. همدا لامل دی چې زموږ هېواد تل په تاریخي توگه د خپلې سیمې د جیوپولیټیک موقعیت قرباني شوی دی.

د افغانستان د همدې جغرافیاوي موقعیت له کبله، چې ځینې ستراتېژیستان او جغرافیه پوهان اوس هم لا دې پایلې ته نه دي رسېدلي، چې آیا افغانستان د منځنۍ اسیا برخه ده، که له منځني ختیځ سره تړل شوی او که یا هم د سویلي اسیا نه شلېدونکې ټوټه ده؟

د سیاسي جغرافیې حساسیتونه یوازې زموږ په سیمه کې نه؛ بلکې همدا اوس د نړۍ تر ۴۰ په ډېرو نقطو کې دېته ورته لانجې رواني دي، خو فرق یې دا دی چې هلته د جبر په بحث کې د پردو او د یرغل او اشغال ترکچې لاسوهنې یا نشته او یا که وي هم د غښتلو ملتونو او پر پښو ولاړو حکومتونو په وجود کې دا ننگونې د اغېزو او نفوذ په دریځ کې خورا په نشت حساب دي.

مگر زموږ په سیمه کې حالات ډېر بدل دي، گران افغانستان چې کله هم پر خپلو پښو د دربېدو هوډ کړی، نو د زماني له یو بدمست سره مخ شوی، د تاریخ یوه ظالم یې د ژوندي تېرولو هڅه کړې او د وخت یوه بدنام یې د غلامولو تکل کړی دی. ولې له مقدوني سکندر اعظم څخه نیولې د چنگیز، تیمورشاه (گډ تیمور)، مغولو، صفویانو، انگریزانو، شورویانو او بیا تر همدا نن امریکایانو هېڅ چا هېڅکله هم پر دې ملت ثوبه نه ده کړې، که څه هم تر یوې پیړۍ زیاته موده کېږي چې د کربلا په څېر بابړۍ مو تیرې کړې، تر یوه پیړۍ زیاته موده کېږي چې د پښتانه- افغان په خېټه کې د فرنگ توره په وینو کې لژنده پرته ده او د پښتون وجود د ډیورنډ په خنجر هره شېبه د یوه ناسور په توگه تازه کوي.

اوس خبره مونږ ته د گران وطن د یوه وارث او مسوول کهول په توگه متوجې ده، چې ایا غواړو تاریخ بدل کړو؟ ایا تاریخ ته د نوي څه ور زیاتولو تکل، اندېښنه او د یوې پیړۍ د روان جبر د جبران وس مو په ځان کې پیدا کړی او یا پیداکولای شو؟

دا هغه خبرې دي چې د تاریخ د جبر په بحث کې یې باید د پنجاب په رهبرۍ له پاکستان سره سپینې او ښه یې بدله کړو. په دې بحث کې مونږ په حقوقي، قانوني او تاریخي دریځ کې پیاوړی مټ لرو. د بېلگې په توگه:

۱. هېڅ داسې سند وجود نه لري چې په هغه کې د ډیورنډ کربښې اړوند د عبدالرحمن خان لاسلیک وي.

۲. عبدالرحمن خان له ۱۸۹۵ تر ۱۸۹۷ ز کال پورې خپل انگلیسي طرف ته بیا بیا لیکونه ولېږل او په هغه کې یې له ځینو سیمو څخه د ډیورنډ کربښې تېرېدل تر پوښتنې لاندې راوستل او نیوکې یې پرې وکړې.

۳. د افغانستان د هغه وخت حکومت یو کمزوری دولت و او له ولسه یې ټولشموله او مشروع استازولې کله هم نشوای کولای او د دې تر څنگ، د ډیورنډ هغې غاړې ولسونو په دې اړوند د جگړه ییزو مخالفتونو تر کچې له دې پرېکړو سره مخالف وو، نو په داسې یوه حالت کې چې که عبدالرحمن خان څه گامونه اخیستي وی هم، د منلو نه دي او مشروعیت نه لري.

۴. د گندمک د معاهدې پر بنسټ، افغانستان د افغان- انگریز له دویمې جگړې وروسته، د افغانستان تر خپلواکۍ پورې، د انگلیس تحت الحمایه هېواد و، هغه چې بهرني سیاستونه یې د برېټانوي هند د حکومت په واک کې وو، نو پر همدې بنسټ افغانستان د هېڅ ډول حقوقي او نړیوال شخصیت لرونکی نه و، نو په دې حالت کې هر گام یو بې مانا جعل دی، نه مشروع او حقوقي پرېکړه.

۵. بل که چېرته د ډیورنډ هوکړه د یوه هوکړه لیک په توگه مطرح وی، نو ولې د افغانستان او انگلیس پارلمانونو یا حتی د افغانستان هېڅ لویې جرگې تصویب نه کړه؟

٦. پر دې ټولو سربېره، که د ډیورنډ هوکړه یوه دایمي هوکړه وی، نو بیا د انگلیس هر حکومت ولې د افغانستان له هر بل واکمن سره د هغې د تمدید هڅه کولې؟

۷. د ډیورنډ د هوکړې د عقد پر مهال د پاکستان په نوم کوم هېواد څه چې حتی کومه داعیه هم موجود نه وه، نو د هند له وچې د برېټانیا له وتلو سره دا وچه پر دوو برخو وویشله شوه، نو پر دې بنسټ پاکستان کله هم د انگلیستان ځای ناستی نه شي کېدای او د دې سند حقوقي او قانوني خبره که څه هم تر عبدالرحمن خانه رسېدلې وی، بیا هم د پاکستان حکومت ته نه لېږدول کېده.

۸. د هغه وخت جیوپولیټیکي حالات ښیي چې انگریزان له یوې خوا پر هند د روسانو له برید څخه وېرېدل او له بلې خوا یې د دې اندېښنه لرله، چې عبدالرحمن خان پر قبایلي سیمو کې لاسوهنه کوي، نو د همدې اندېښنو پر بنسټ د ډیورنډ هوکړه یوازې د عبدالرحمن خان او انگریزانو تر منځ د نفوذ د سیمې د وېش په مانا و، نه د یوې رسمي پولې په توگه.

۹. په ۱۹۴۷ ز کال کې د پاکستان له رامنځ ته کېدو سره د ډیورنډ پورې غاړې سیمې د پاکستان د خودمختاره ایالتونو په توگه په پاکستان پسې وتړل شوې، ولې دا کربښه هېڅکله د ډیورنډ هغې خوا ته مشهورو پښتنو گوندونو لکه عوامي نېشنل پارټۍ او د پښتونخوا عوامي پارټۍ له لوري د رسمي سرحد په توگه په رسمیت ونه پېژندل شوې.

د دغه او دغته ورته ډېرو غښتلو، مستدلو او حقوقي موضوعاتو سربېره، په نننۍ نړۍ کې هغه څه چې د سیاسي جغرافیې پېچلي برخلیکونه فیصله کولای شي، هغه د تاریخ او جبر په بحث کې د هېوادونو د سیاسي دریځ او ملي قضایاوو تر شا د هغو ملتونو د زور او زر خبره ده، لکه روسانو وروسته له یوې پیړۍ کریمیه د یوه ساده نظامي حرکت په ترځ کې ونیوله، هند د کشمیر پر ۸۰ سلنه برخه د پاکستان د کورنیو کشمکشونو په تس کې په خپله ولکه کې راوستله او همدارنگه مصر د سوډان او اسراییلو د سوریې جولان پراخې سیمې له خپلو ملي حاکمیتونو سره ونښلولې.

دې ټولو تاریخي کتنو، شالیدونو او پر تاریخ د جبر د واکمنۍ په زمانه کې که څه هم مونږ ته له امیر عبدالرحمن خانه تر داوود خانه د ډیورنډ د راگرځولو او د لوی افغانستان د بیا احیا کولو پراخ فرصتونه په لاس راغلي، ولې د نااهلو، تنگ نظرو، ځانچارو، بلچارو او د واک او شتمنۍ په ساتلو کې مستو واکمنو د بې باکیو له امله مو له لاسه وتلي دي.

په داسې یوه حالت کې مونږ څو فرضیې مخ ته لرو چې کولای شي په دې برخه کې د تاریخ د جبر طلیسم پرې مات کړو او مونږ له دې وضعیته وباسي.

۱. سولې او امن ته کار کول، د افغانستان د خپل اختیاري بحث چې د گران وطن په سیاسي خپلواکۍ او ټیکاو منتج شي او بیا له دې لارې مونږ وکولای شو چې ځان جوړ کړو او د نړیوالو دریځونو له لارې خپله داعیه وگټو.

۲. تر سولې، امن او خپل اختیاره افغانستان وروسته که مونږ د ډیورنډ مسئله غواړو او دا پر یوه ملي بحث بدله کړو، نو شاید کورني مخالفتونه ولرو، نو په داسې یوه وضعیت کې مونږ د گاونډي ایران فورمول ته اړتیا لرو او هغه مونږ باید په افغانستان کې یو لاس او دریځ نظام او قدرتمند پر مرکزي اقتدار ولاړ دولت رامنځ ته او د نیمې پیړۍ تگلارې پر بنسټ باید په پاکستان کې د قدرت له جزیرو نیولې، تر اقتصادي، فرهنگي او نورو ټولو اغېزمنو ټولنیزو بحثونو باید نرمه لاسوهنه وکړو او لکه د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر د ۱۱مې پېښو او له پاکستان سره له هر کړکېچ څخه باید هوښیارانه گټه پورته او لکه چې بنگالیانو د شیخ مجیب الرحمن په رهبرۍ رامنځ ته شوی درز سم درک او وکاراوه، مونږ هم انتظار او ورته کار وکړو.

۳. په دغه فرضیه کې هم د افغانستان د خپلواکۍ، قوت او وحدت خبره د سر ټکی ده، مگر د دې فرضیې ډېر شمېر وسایل مخکې له مخکې د پنجابي ریاست د غلطو او کرکه پاروونکو کړنو په ترځ کې رامنځ ته شوي، چې هغه د پاکستان پر بد اقتصادي او امنیتي حالت سربېره، د پنجابي ریاست ټولنیز او سیاسي انفجار دی.

د بېلگې په توگه، پښتانه په دوو جبهو کې یو د نېشنلېست- مذهبي جوړښت په توگه مسید طالباني ټلواله او بل د مدني- سیاسي خوځښت په بڼه کې د پښتون ژغورنې تاریخي او ولسي حرکت ظهور دی.

د کرزي صیب حکومت چې یقیناً کرزي کله هم له پنجاب سره له متقابل غبرگون څخه لاس نه دی اخیستی، په نظامي برخه کې دا تشه د ډکېدو تر درشله ورسېده، مگر د ډاکټر غني خوشباورانه او د شخصي گټو پر محور دولت، د امریکا او پنجاب په یوه بده دسیسه کې د پاکساني طالبانو مهم کس لطیف الله مسید آی اس آی ته ورکړ او دې کار د حامد کرزي د حکومت ټول زیار او هڅې پر اوبو لاهو کړل.

د دغه پراخ بحث او بیا د حقوقي چوکاټونو تر څنگ، د سیاسي فرضیو مطرح کول هغه موضوعات دي، چې د تاریخ او جبر په کربښو کې د ډیورنډ په څېر د مهمو تاریخي او ستراتیژیکو قضایاوو او په دې اړوند د امریکا په څېر د پښتون ضدو او استعمارپالو ځواکونو په شتون کې چې همدا اوس هم ډیورنډ رسمي سرحد گڼي او پر ډیورنډ د پاکستان د پوځ له لوري غځېدونکي اغزن تار نږدې ۳۰۰ میلیونه ډالره لگښت هم دوی ورکوي، د دې ښوونه کوي چې افغانان د یوه ملت او زموږ حکومتونه د افغان ملت د سیاسي استازولۍ په برخه کې چې تر کله په کور د ننه سمونونه رانه ولي، واقعیتونه ونه مني او پر شعارونو د ولس تېر ایستو پر ځای منظمې، منسجمې او عملي کېدونکو تگلارو باندې کار او پانگونه ونه کړي، پر کمپاینې چیغو، د امریکایي اشغال په وحشتونو کې ټویټونو او په ټوله کې د پاکستان په څېر شریرو ځواکونو پر وړاندې د بې ځایه مانورونو تر سره کول له دې ولس، برحقې او تاریخي داعیې سره یې خیانت دی.

## د کتاب خبرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### زرین قانون له تاسو پیل کېږي




زیاتره خلک چې چا ته کار کوي، د هغو خلکو د درناوي ډېره اړتیا لري او د کار خاوندان چې خپلو کارکوونکو ته دا درناوی ورکړي، نو مثبت کاري چاپېریال رامنځته کېږي. داسې کار د میشل بورمن په نوم یو کس کوي، دا کس په بوسټن کې د یوه انجینري مشورتي شرکت اجراییوي رییس دی. دی د خپلو کارکوونکو هغسې درناوی کوي چې وړتیا یې هر بامسئولیته کس لري. ده لس سلاکاران گومارلي دي، دوی متخصصان بولي او د خپلو شریکانو په څېر چلن ورسره کوي. دوی چې دلته یو کال وخت تېر کړي، بیا د همدې شرکت ونډې پېرلای او په شرکت کې شریکېدای شي؛ خو دوی تر شراکت مخکې هم ځیني داسې پرېکړې کوي چې ځینې کارکوونکي یې کولای شي.

ته چې د چا درناوی کوې، دا درناوی تر هغې ستاینې ډېر غوره دی چې نور یې کوي. دوی دا ټاکي چې پر کومو پروژو باید کار وشي، کله باید وشي، چېرې باید وشي او ان دا هم چې څومره رخصت وکړي.

برمان وایي:((زه خپل کارکوونکي ته په دې ارزښت ورکوم چې څه شی جوړولای شي، دا راته مهمه نه ده چې په کوم ځای کې یې جوړوي.)) د هغه اصلي خبره دا وه چې هر سلاکار باید د کال لږ تر لږه سل زره ډالر سودا وکړي او داسې باید ووېشل شي: ۳۰٪ هغو ته چې کار کوي، ۱۵٪ هغو ته چې پلوري یې، ۱۰ سلنه هغو ته چې مدیریت کوي یې، ۵ ٪ مالیاتو ته، ۲۰ لگښتونو ته او ۲۰ سلنه گټه. (٦)

کارکوونکی چې څه ډول درناوی ترلاسه کوي، ده ته دا خپلواکي ورکوي چې کار په تر ټولو ښه ډول او پوره وړتیا وکړي. دا درناوی نه یوازې د فرد قدر زیاتوي، بلکې کاروبار ته هم ښه دی. جیمز هویل ویلي:((تاسو د یوه کس درناوی وکړئ، هغه به لا ډېره هڅه وکړي.))

**٤. زه درک کېدل غواړم!**

یو وخت مې د ښوونکو د یوې ډلې سروې ولوسته چې پر دوو زرو بادارانو (د کار خاوندانو) یې کړې وه، ورته ویلي یې وو درې هغه کسان وښیي چې له تاسو سره یې کار پرېښی وي او د کار پرېښودو دلیل یې هم ووایئ.

ښوونکو وموندله، په هرو دریو کې دوو تنو په دې خاطر کار پرېښی و چې له نورو سره یې گوزاره نشوی کولای.

ځینې وخت د خلکو ستونزه سختې یا بې تفاوتي وي؛ خو زیاتره وخت دا ستونزه د درک له کمي رامنځته کېږي. که څوک زموږ په معیار یا قالب برابر نه وي، نو موږ بیا ستونزې او تېروتنې په اسانۍ پکې موندلای شو؛ خو که موږ د هغوی د درک او پېژندلو یا په خبره د پوهېدو هڅه وکړو، نو زیاتره وخت پوهېږو چې د هغوی خبره هم بده نه وه، یوازې بدله وه. موږ ښایي پوه شو هغوی بل ډول غبرگون ښیي، ځکه هغه ښېگڼې به یې نه درلودې چې موږ یې لرو. یا به یې ښایي هغو حالاتو او چارو ته داسې غبرگون ښودلای وي چې د دوی له وسه بهر وي. موږ چې یو ځل له دې حالاتو ووزو، نو بیا له خلکو سره عاطفي اړیکه پیدا کولای شو او د نورو خلکو درک همدا عاطفي اړیکه ده. موږ له نورو خلکو د ماشینونو تمه نشو کولای، ځکه ټول عاطفي مخلوق یو.

له خلکو سره په خبرو او معاملو کې لومړی ځان پوه کړئ، بیا د هغوی د پوهولو هڅه وکړئ. هانس کیونگ ویلي:((د خلکو په منظم درک کې دا هم راځي چې زده کړه ترې وکړئ او له هغه چا زده کړه چې په منظم ډول ځان بدلوي.)) د نورو خلکو درک هغوی ځان پراخول او د هغوی کچې ته رسول دي، همدارنگه د اړیکې جوړولو بار پر ځان اچول دي، نه پر هغوی.

له خلکو سره په خبرو او معاملو کې لومړی ځان پوه کړئ بیا د هغوی د پوهولو هڅه وکړئ. د چارلیس کیټرینگ دا خبره په یادولو ارزي چې:((د پوهېدلو او درک کولو ترمنځ لوی توپیر دی، تاسو د یوه شي په اړه ډېر پوهېدای شئ؛ خو درک کولای یې نشئ.)) همدا خبره د خلکو په اړه هم سمه ده.

**۵. زه نه غواړم چې نور گټه رانه واخلي!**


له ځان سره د نورو خلکو په چلن کې راته تر ټولو مهمه خبره دا ده چې څوک رانه گټه وانخلي. دا د اخلاقي چلن اساس دی. زیاتره خلک د فلسفي موضوعاتو راټولولو او اخلاقي معماوو حل کولو ته اړتیا نه لري. که خلک داسې گڼي چې زه گټه ترې اخلم - سره له دې چې زه ورته د خپلو موخو د تشریح کولو فرصت هم لرم - نو دا په دې مانا ده چې زما چارې سمې نه دي.

ماروین بویر د (۲۰۰۳ز) په جنوري کې مړ شو. دی د مکیسني اینډ کمپني شرکت اوږدمهالی رهبر و او د مسلکي مدیریتي مشورې بنسټگر یې هم بولي. بویر دې ادارې ته په (۱۹۳۳ز) کې راغی. په (۱۹۵۰ز) کې د شرکت رییس شو او پر دې بست یې (۱۷) کاله کار وکړ. بیا یې تر خپل کورناستي (تقاعد) یانې (۱۹۹۲ز) پورې د شریک د رییس په توگه کار ورسره وکړ. ده ته د نورو خلکو ارزښت لومړیتوب درلود. د شرکت په یوه خپرونه کې راځي:((هغه به ویل چې د مراجعینو/ پېرودونکو گټه د ادارې تر گټو لومړۍ ده او دا کار به هله کېږي چې موږ پر دې ډاډه شو چې د مراجعینو ارزښت زموږ تر فیس لوړ دی.)) (۷)

**دوام لري...**

# مالدیف

حشمت الله نوري



مالدیف د آسیا په جنوب کې د هند په سمندر او د هند په جنوبي خوا کې د شمالي عرض البلدونو د صفر او ۹ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۷۱ او ۷۳ درجو تر مینځ موقعیت لري، چې پراخوالی یې ۱۱۵ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۲۰۹م لوی هېواد بلل کېږي.

مالدیف له یوې خوا د استوا کرښې ته نږدې پروت دی او له بلې خوا له څلورو خواوو څخه د هند د سمندر اوبو کلابند کړی دی. له همدې امله د دغه هېواد هوا ډېره توده او لنده ده. د مالدیف د ټاپوگانو په ټولگي کې ډېر زیات باران ورېږي، د دغه هېواد په شمال- ختیځو سیمو کې د اوربښت فصل له نومبر تر مارچ او د جنوب- لوېدیځو سیمو له جون تر اگست پورې دی.

د دغه هېواد د ټاپوگانو ټولگی له ۲۰۰۰ مرجاني ټاپوگانو څخه جوړ شوی دی، چې ۸۰ نسبتاً لوی او ۲۴۵ یې د استوگنې وړ دي. دغه ټول ټاپوگان د اوبو د کاڼو په ۱۹ کړیو کې راغونډ شوي او په مجموع کې یې د انگورو د وږي شکل جوړ کړی دی. داسې اټکل کېږي چې دغه ټاپوگان د هغه سمندري غره لوړې برخې دي، چې اصلاً اورغورځوونکي منشا لري او له شمال څخه د جنوب خوا ته غځېدلي دي. د استوا کرښه د مالدیف جنوب ته په نږدې واټن کې تېره شوې ده، دغه هېواد ته تر ټولو نږدې هېواد هند دی چې د دغه هېواد شمالي لوري ته پروت دی.

د دغه هېواد غرونه لږ ټیټ او لنډ دي، د دغه هېواد پاتې خاوره هواره او د پریمانه اورښتونو او تودې هوا له امله په گڼو ځنگلونو پوښلې شوې ده.

د مالدیف پلازمېنه د ماله ښار دی او ټولټال څلور سوه زره کسان نفوس لري، چې په هر میل مربع سیمه کې یې ۳۴۴۰ کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ۴۵ سلنه وگړي په ښارونو او پاتې ۵۵ سلنه هغه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

د مالدیف اساسي قانون د ۱۹٦۸ ز کال د جون په څلورمه نافذ شوی دی. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر ابراهیم محمد سهیل دی چې د مالدیف د لومړي وزارت چارې هم پرمخ بیایي. د دغه هېواد ولسمشر د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي. د دغه هېواد د کابینې غړي د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي.

د مالدیف ولسي جرگه ۷۷ څوکۍ لري چې د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ورته استازي ټاکل کېږي.

د دغه هېواد حقوقي نظام پر اسلامي قوانینو او انگلیسي اصولو ولاړ دی. د دغه هېواد لوړ قضایي ارگان ستره محکمه ده، چې قاضیان یې د ولسمشر له خوا د ولسي جرگې په مشوره ټاکل کېږي.

توریزم د مالدیف د اقتصاد غټ سکتور دی، چې د هېواد ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات او ٦۰ سلنه بهرني اسعار برابروي. د دغه هېواد د دولت ۹۰ سلنه مالیاتي عواید له گمرکي محصولاتو او توریزم څخه لاس ته راځي. په ۲۰۰۷ ز کال کې ۳۸۰ زرو سیلانیانو دغه هېواد ته سفر کړی دی، چې د ٦۲۰ میلیون ډالره یې هلته لگولي دي. له توریزم وروسته کب نیونه د مالدیف د اقتصاد دویم مهم سکټور بلل کېږي.

په ۱۹۸۹ ز کال کې د مالدیف دولت یو اقتصادي ریفورم پیل کړ چې د هغې له مخې یې ځینې صادرات خصوصي سکټور ته پرېښودل او وارداتي سهمیې یې لغوه کړې. همدا راز دولت په خپلو قوانینو کې داسې بدلون راوست چې بهرنۍ پانگې ته یې لاره پرانیستله. کرنه او صنعتي تولیدات د دغه هېواد په عمومي اقتصاد کې لږ ونډه لري او دا ځکه چې د کرنې وړ ځمکه او وطني کار گران دواړه پکې لږ دي. مالدیف خپل زیات خوراکي مواد له نورو هېوادونو واردوي، صنعتي تولیدات، لاسي صنعت جامې او کوچنۍ بېړۍ د دغه هېواد ۱۸ سلنه ناخالص کورني تولیدات برابروي. د مالدیف دولت د خپل هېواد د ډېر ټیټ جغرافیایي موقعیت او د خاورې د فرسایش له امله په تشویش کې دی. د دغه هېواد ۸۰ سلنه خاوره د سمندر له سطحې شاوخوا یو متر لوړوالی لري، که د هوا د نړیوال تودوالي له امله د هند د سمندر اوبه نورې هم لوړې شي، کیدای شي چې د مالدیف ډېر ټاپوگان په راتلونکو لسیزو کې ډوب شي. د ۲۰۰۴ ز کال د ډسمبر سرت سمندري توپان په دغه هېواد کې ۱۰۰ کسان مړه او ۱۲۰۰۰ یې بې ځایه کړل. دغه توپان د دغه هېواد اقتصاد ته ۳۰۰ میلیونه ډالره زیان رسولی دی، خو پاتې دې نه وي چې د مالدیف اقتصاد اوس ښه لوري ته روان دی.

سیلانیان، کوچنۍ بېړۍ، د سوداگریزو بېړیو ترمیم، د کبانو پروسس، جامې، بوریا، لاسي صنعت، مرجان او په شگو او رېگ کې د کاني توکو پلټنه د دغه هېواد مهم صنعتي توکي بلل کېږي.

د دغه هېواد ۱۴ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده او پاتې څلور سلنه یې څرځایونو او پاتې نوره یې ځنگلونو، غونډیو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د مالدیف ۱۲ سلنه خلک د کرنې، ځنگل ساتنې او د کبانو په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۷ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

پنبه، وریجې، چای، جوار، کچالو، دارویي بوټي، ناریال، سابه، غوښه، لبنیات او هگۍ د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کېږي.

د دغه هېواد غټ تجارتي شریکان ټایلنډ، جاپان، سریلانکا، انگلستان، فرانسه، ایټالیا او تانزانیا دي.

مالدیف له ۲۰ ډېرې تجارتي بېړۍ لري، پنځه هوایي ډگرونه لري چې درې یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۹٦۰ او د انټرنېټ کود یې MV دی، چې ټولټال یې یو میلیون کسان ورته لاسرسی لري.

په مالدیف کې دوه دولتي راډیو- ټلوېزیوني چینلونه فعالیت کوي. په دغه هېواد کې خصوصي سکټور هم د میډیا په برخه کې پانگونه کړې او کاري فعالیت کوي.

دغه هېواد د آسیا او نړۍ له ډېرو کوچنیو هېوادونو څخه دی او له اقتصادي اړخه هم ښه لوري ته روان دی.

په دغه هېواد کې له ۱۵ کلنو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهېږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ٦- ۱۲ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

د مالدیف پخواني اوسېدونکي داسې هوښیار کب نیوونکي او ملاحان وو، چې تل یې د آسیا له اصلي خاورې سره خپلې اړیکې ژوندۍ ساتلې وې. په ۱۲مه پېړۍ یا د هجرت د شپږمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د اسلام مبارک دین د عربي سوداگرو په واسطه د مالدیف ټاپوگانو ته ورسېد. له دې وروسته په څلورمه هجري پېړۍ کې هالنډیانو پرتگالیانو ته ماتې ورکړه او مالدیف یې په سراندیپ یانې اوسنۍ سریلانکا پورې وتاړه. وروسته د انگلیسانو وار شو، د ۱۹مې پېړۍ په پیل کې انگلیسي پوځونه په یوازې توگه په داسې حال کې پر مالدیف لاس بري شول، چې یو کورواکه پاچایي دولت د دغه هېواد چارې پرمخ بیولې. کله چې سویز کانال پرانیستل شو، د مالدیف ارزښت ډېر اوچت شو او انگلستان د هانکانگ په ټاپو کې یوه سمندري اډه جوړه کړه، چې هانکانگ او ختیځې آسیا ته له عدن سویز او جبل الطارق څخه سمندري لارې او بېړۍ وڅارل شي. له دویمې نړیوالې جگړې وروسته، هغه وخت چې په ۱۹۴۷ ز کال کې د هند نیمه وچه د هند او پاکستان پر دوو هېوادونو ووېشل شوه، انگلستان غوښتل چې د مالدیف د ټاپوگانو د ټولگي د ځانگړي ارزښتمن جغرافیایي موقعیت له امله دغه هېواد د ځان لپاره وساتي او له هغه څخه د یوې پوځي او تجارتي سمندري اډې په توگه کار واخلي، خو د مالدیف خلکو د خپل هېواد د خپلواکۍ هڅې توندې کړې، له همدې امله انگلستان په ۱۹۴۸ ز کال کې دغو ټاپوگانو ته کورنۍ خپلواکي ورکړه او اداره یې د سریلانکا مشرتابه ته وسپارله.

د ۱۳۵۳ ز کال په پیل کې د مالدیف خلکو د خپل ژوند د بدو شرایطو د بدلانه په هیله د انگلیسانو او سلطان پر ضد پاڅون وکړ، د خلکو پاڅون بریالی شو، سلطان له دندې گوښه او په هېواد کې جمهوري نظام اعلان شو، خو انگلیسي پوځونو پر پاڅون کوونکو ور ودانگل او سلطان یې بېرته پر دنده وگوماره.

له دې پېښو سره جوخت د پردیو پر ضد د مالدیف د خلکو پاڅونونه ورځ په ورځ پیاوړي کېدل او ډېرو خلکو د خپل هېواد د خپلواکۍ غوښتنه کوله. په ۱۹۵۷ ز کال کې انگلیسانو وغوښتل چې د جنگي الوتکو لپاره په مالدیف کې خپله اډه پراخه کړي، دا غوښتنه د مالدیف د حکومت له مخالفت سره مخ شوه او لومړي وزیر ابراهیم علي چې د انگلیسانو له پلویانو څخه هم و، استعفا وکړه. بل لومړي وزیر ابراهیم ناصر هم د خلکو د بغاوت له ویرې او دا چې د هوایي اډې پراخول د ده د حکومت له ناپیلي سیاست سره په ټکر کې وو، دا نگلستان وړاندېزونه ونه منل. په ۱۹۵۹ ز کال کې د خلکو د خپلواکۍ غوښتنې مبارزه نوره هم گړندۍ شوه او ځینو خلکو د مالدیف په جنوبي سیمو کې د خپلواکه جمهوریت د جوړېدو اعلان وکړ. د دغه خپلواکه جمهوریت عمر ډېر لنډ و، ځکه چې د مالدیف په دولت کې هغو ځواکونو چې د انگلستان ډېره پلوي یې کوله، یرغل یې پرې وکړ او انگلستان ته دا موقع په لاس ورغله چې خپله هوایي اډه ښه پراخه کړي. د ۲۰مې پېړۍ په شپېتمو لسیزو کې د انگلستان دولت د مالي ستونزو له امله د سویز د خلیج په ختیځو برخو کې خپلې پوځي آډې تخلیه کړې او د دغو سیمو یا آډو د ساتنې چارې یې امریکا ته پرېښودې. د مالدیف دولت دا حالت د ځان لپاره مناسب وباله او د خپل هېواد بشپړه خپلواکي یې اعلان کړه.

افغانستان او مالدیف سیاسي اړیکې نه لري، خو مشران یې د سارک په سرمشریزو غونډو کې یو له بل سره گوري.

له افغانستان څخه تر مالدیف پورې د هوا له لارې فاصله ۳۵۹۰ کیلومتره او همدا راز د کابل او ماله ښارونو تر مینځ د وخت توپیر نیم ساعت دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸٤,۷۰ |
| Rp. | ٤۹۰ |
| ₹ | ۱۰,۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همياني

# که له ژوند خوند اخلی، نو سفر وکړئ

ژباړه: حميدالله حميدي

هر څه هېرېږي، خو د سفر تجربې هېڅکله نه هېرېږي «همداسې مو له يو او بل سره قدم واهه، هغې وويل، سفر مې نه خوښېږي.» څو کاله مخکې کله چې له ټولګي راتلم، له يوې ښځې سره مخ شوم، سترې مشي مو سره وکړل او له يوه او بل سره معرفي شو. د هغې ښايسته وېښتانو سرې ور جذبولو. ډېر ښکلي او اوږده وېښتان يې درلودل. زما په شونډو مسکا وه، خوا ته يې ورغلم او جوړ پخير مې سره وکړل. هغه هم ډېره خوش خلقه وه، دغه څه د دې لامل شول چې څو شېبې سره وغږېږو او وخاندو. زه پر دې پوه شوم چې هغه په امريکا کې له پيدايښته بيا تر اوسه پورې بهر ته چېرته په سفر نه وه تللې. دې خبرې زه بيخي حيران کړم. ما ته لکه يوه زنداني داسې ښکاره شوه، غوښتل مې هغه ازاده کړم. له هغې مې وغوښتل چې په سهار کې د قدم وهلو پر مهال له ما سره مله شي او سره ووينو. ساعتونه يې ونيول، څو هغه قانع کړم چې پلی تګ يا د سهار له خوا قدم وهل سړی نه وژني، بلکې ګټور کار دی. بله ورځ له ما سره مله شوه، خو د قدم وهلو پر مهال يې ما ته وويل چې له مسافرۍ يا سفر کولو سره يې جوړه نه ده.

دا هم بايد ووايم چې هغې هېڅکله د سفر خوند نه و څکلی، ځکه يې زړه هم نه ورته ښه کاوه. له قدم وهلو وروسته د هغې تر کوره پورې ور سره ولاړم، ډېره خوشاله وه او دا وخت پر موږ ډېر ښه تېر شو. څه موده وروسته يې ما ته مسيج وکړ او پکې ليکلي يې وو چې په سفر تللې وه، ډېر خوند يې ترې اخيستی و او يوه ډېره ښه تجربه وه ورته. دې ان د هغو ځايونو لېست راته ليکلی و چې د هغې د خوښې وړ وو.

که رښتيا ووايم، زما پوښتنه دا ده چې که تاسو سفر ونه کړی، نو څه ډول له ژونده خوند اخلی؟ سفر په دې مانا نه دی چې تاسو هرو مرو له هېواده بېرون ووځی، هر هېواد خپله داسې سيمې، ولايتونه، ولسوالۍ او نور په زړه پورې ځايونه لري، چې په ليدلو ارزي او بايد سړی يې وګوري.

بېرته راځم خپلې خبرې ته. زه غواړم د دې معما په ځواب پوه شم چې تاسو ولې سفر نه کوی؟ پنځه کاله کېږي چې په يوه کور کې اوسېږی، سهار مو کار ته ځی او بېګا بېرته خپل کور ته راځی. دا کار درته سترې کوونکی نه دی؟ تاسو په رښتيا يوه سفر ته اړتيا لرى. په خپل هېواد کې يوه ښار ته سفر وکړئ او له ژونده خوند واخلئ. که تاسو ټول وخت يوازې په يوه ځای کې ژوند وکړی، سهار دندې ته لاړ شی، بېګا بېرته کور ته راشی، ژوند به مو لکه د کتاب يوه پاڼه داسې وي، خو که ښارونو او هېوادونو ته سفر وکړی، نو ژوند مو يوه لوی او له ګټورو مطالبو ډک کتاب ته ورته کېږي. نړۍ هم يوه کتاب ته ورته ده، هغوی چې هېڅ سفر نه کوي، دوی اړ دي چې د کتاب همدا يوه پاڼه ولولي. زما يوه ملګري هند ته سفر درلود، له يو څه مودې وروسته يې ليدلوري هم بدلون وکړ. اوس يې د فکر بڼه د پخوا په پرتله بدله شوې ده. هغه هلته يو واقعي ژوند تجربه کړ، هغه پوه شو چې په هغه ځای کې ژوند له هغو فلمونو سره چې هند يې توليدوي، توپير کوي او د هغه ځای د خلکو واقعي ژوند هسې نه دی.

زړه مو نه دی چې خپلو لمسيانو ته نوې کيسې وکړی؟ نه غواړی چې ډېرې خاطرې ولری؟ نو راځئ سفر کول درته په يوه تفريح بدل کړئ. که مو واده کړی او اولادونه لری، نو ښه ده چې له خپلې کورنۍ سره يو جادويي سفر وکړئ، څو د ټول عمر لپاره درته يوه خاطره وي. تاسو کولای شی له دې فرصت څخه په ګټې اخيستنې، له خپلې کورنۍ سره يو څه ډېر وخت تېر کړی او که مو واده نه وي کړی، بيا کولای شی له خپلو نږدې ملګرو سره په سفر لاړ شی.

زما تر ټولې ښې او ځانګړې خاطرې په هغو سفرونو پورې تړلې دي، چې له کورنۍ او اولادونو سره مې کړي دي. يو ځل مې په يوه پنځه ورځني سفر کې له خپلې کورنۍ سره له شپږو ايالاتونو څخه ليدنه وکړه. دومره خاطرې له هغه سفر څخه لرم چې پوښتنه مه کوی. نوي ملګري مې پيدا کړل، نوي خواړه مې وخوړل او د هغه وخت ډېرې کيسې له ځان سره لرم. ژوند ډېر لنډ دی. تاسو چې هر څومره عمر خوړلي کېږي، بيا به په تېر وخت کې د سفر کولو او د ډېرو ځايونو د ليدلو ارمان کوی. ژوند ژر ژر تېرېږي. د وخت په تېرېدو سره پلی تګ، منډې وهل، سفر کول، فکر کول او د ژوند تجربه کول سختېږي. زما اوس دې ته پام شوی دی چې له وخت، ژوند او شته امکاناتو بايد ګټه واخلم. کله چې تاسو سفر کوی او په چکر ځی، نو په اصل کې له ځان سره هم سفر کوی. تاسو کولای شی د سفر پر مهال له خپل ځان څخه هم ډېر شيان زده کړی.

تاسو چې کله سفر کوی، په اصل کې نوي شيان کشفوی او کشف د ژوند يوه مهمه او حياتي برخه ده. د سفر لپاره تاسو ډېرو شيانو ته اړتيا هم نه لرى. د يو کوچني بکس، لپ ټاپ، تلېفون، پاسپورټ او نغدي پيسې کفايت کوي. که تاسو دغه شيان ولرى، نو بيا د سفر په اړه هېڅ اندېښنه مه کوئ. زه خو له خپلو رخصتيو همداسې ګټه اخلم، ستاسو خپله خوښه. همداسې اسان او بې جنجاله سفر خوند راکوي. له دې ټولو څخه زما موخه دا ده چې يو څه مو روحي حالت ور سره ښه شي او له ژونده خوند واخلی.

د هند پخواني ولسمشر عبدالکلام ويلي: «ځوانانو ته زما سپارښتنه دا ده چې متفاوت فکر وکړي، زړور اوسي، سفر وکړي او له ناشناخته ځايونو څخه ليدنه وکړي، غير ممکن شيان کشف کړي، له ستونزو سره مخ شي او بريالي ترې راووځي. دا هغه څه دي چې ځوانان بايد ور باندې کار وکړي.»

زما دوستانه سپارښتنه هم تاسو ته دغه ډول ده. موږ او تاسو خو ملګري يو که نه؟ هو، ډېر ښه!

کله چې وزګار وی، نو سفر وکړئ او نړۍ وپېژنئ. په دې کار سره تاسو ځان مرګ ته نه ورکوی، بلکې ډېرې تجربې به تر لاسه کړی. د بېلګې په توګه، د اوړي په رخصتيو کې کولای شی د خپل هېواد يخو سيمو ته له کورنۍ او يا هم ملګرو سره په سفر او چکر ولاړ شی.

مشهور انګليسي ليکوال ډېوېډ مېچل (David Mitchell) يو وخت ويلي وو: «هغه کس چې له ډېرې شتمنۍ سره مړ شي، ګټونکی دی»، خو اصلي خبره دا نه ده، ګټونکی هغه څوک دی چې ډېرې تجربې ولري او په خوښۍ کې يې ژوند کړی وي. ولې وايي چې خپله ټوله شتمني په سفر ولګوی؟

پخوا خلکو داسې فکر کاوه چې ټولې خوښۍ په ماديياتو کې دي، خو اوس علم ثابته کړې ده، هغه څه چې تاسو ته خوښي درکوي، هغه تجربې دي. تجربې لکه سفر، له کوره بيرون کار کول، نوي شيان زده کول، له نندارتونونو ليدنه او داسې نور. موږ داسې فکر کوو چې نوی برنډ ټلوېزيون له يوې ښکلې جزيرې څخه تر ليدو ښه دی او يا ډېر عمر کوي، خو داسې نه ده.

د کارنل پوهنتون د ارواپوهنې استاد ډاکټر توماس ګيلووېچ (Thomas Gilovich) چې نږدې څو لسيزې يې د پيسو او خوښۍ تر منځ د اړيکې په اړه څېړنې کړې دي، وايي: «موږ پېرل کوو، څو خوشاله شو او په دې برخه کې يو څه بريالي هم يو، خو دغه خوښي ډېره موقتي ده. سمه ده چې د نويو شيانو اخيستل راته په زړه پورې وي او خوشاله کوي مو، خو له يو څه مودې وروسته ور سره عادت کېږو.» د بېلګې په توګه، نوی ټلوېزيون مو تل د سترګو په وړاندې وي، ور سره عادت کېږو. دغه ټلوېزيون لکه د يوه غبار په څېر ورو ورو د اسمان په خوا ځي او اخر مو له سترګو پناه کېږي، خو سفر کول راته بيا داسې تجربې راکوي چې ټول عمر را سره وي او د وجود يوه برخه مو ګرځي.

فکر وکړئ، کوم يو به در باندې ډېر اغېز وکړي، د لوبو هغه سامانونه چې په کوچنيوالي کې مو درلودل او يا هغه سفر چې له کورنۍ سره مو يو ځای کوم هېواد يا ښار ته کړی و؟ هغه سفر ښايي چې اوس هم در په ياد شي، ډېرې خوږې خاطرې مو يې په ذهن کې ګرځي.

ګيلووېچ د حيرانوونکي ژوند په نوم په يوه څېړنه کې چې په (Journal of Consumer Psychology) کې چاپ شوې هم ده، وايي: «دا زموږ تجربې دي چې د ژوند او وجود پر يوې لويې برخې مو بدلېږي، نه زموږ شتمني.»

کېدای شي ستاسو په ژوند کې ډېر داسې څه وي چې له کچې زياته مينه ور سره ولرى او ان د هويت په څېر ور سره تړلي وی، خو له دې سره سره هغه ستاسو له وجوده لرې وي. په بدل کې يې بيا تجربې هغه څه دي چې ستاسو له وجود سره تړلي او نه بېلېدونکي دي. ګيلووېچ همدا راز وايي: «د ماديياتو اخيستلو په پرتله د تجربو اخيستل اسانه هم دي او داسې څه دي چې نه له لاسه ورکول کېږي او نه هم زړېږي. په اصل کې دا تجربې دي چې زموږ د وجود يوه برخه جوړوي، له نورو سره مو نږدې کوي او ډېرې لويې خوښۍ راکوي.»


نو ولې بيا په تمه ياست؟ هغه پيسې چې د کور لپاره مو د نويو شيانو اخيستو ته ځانګړې کړې دي، را واخلئ او له کورنۍ سره مو په ګډه سفر وکړئ، موزيم ته لاړ شئ او يا هم د ښار يوه ښکلي پارک ته لاړ شئ او څو شېبې په خوښۍ تېرې کړئ. ډاډه يم چې دا خوښي به مو ټول عمر په ياد وي او هر وخت به يې له خاطرو او تجربو خوند اخلی.

## مکېنزي: ايران هڅه کوي چې په افغانستان کې امريکايي اهداف په نښه کړي

د امريکا د سنټکام مرکزي قوماندانۍ مشر، جنرال کنت مکېنزي ويلي چې ايران هڅه کوي څو په افغانستان کې د خپلو نيابتي ډلو له لارې امريکايي موخې په نښه کړي.

هغه چې په دې وروستيو کې يې افغانستان ته سفر کړی، ويلي چې په افغانستان کې د ايران دغه هڅې څارې او خبرداری يې ورکړی چې دا ډول اقدامات به ياد هېواد ته ناوړه پايلې ولري.

نوموړي دغه راز ويلي: «ايران تل د افغانستان په مسايلو کې تر يوه حده منفي ونډه درلوده، خو دوی ښايي فرصت ته په تمه وي چې پر امريکايي اهدافو هم بريدونه وکړي.»



د يادونې ده چې د امريکا او ايران تر منځ وروسته له هغې اړيکې ترينګلې شوې، کله چې امريکا په عراق کې د ايران د سپاه پاسداران ډلې د قدس مشر، قاسم سليماني د روان زېږديز کال د جنورۍ په مياشت کې د هوايي بريد په پايله کې وواژه.

په ورته وخت کې مخکې له دې افغان سياستوالو هم ويلي وو چې په افغانستان کې د سولې له خبرو سره هممهاله به د سولې خبرو پر بهير د سليماني وژنه بې اغېزې نه وي.

دغو سياستوالو تېره اونۍ د افغانستان ستراتېژيکو څېړنو په مرکز کې د «د امريکا او ايران تر منځ نانډرۍ او پر افغانستان يې اغېز» په نوم غونډه کې ګډون کړی و، دوی ټينګار کړی چې د ايران او امريکا تر منځ نانډرۍ به سولې ته د افغانانو لاسرسی ستونزمن کړي.

بلخوا د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد له طالبانو سره د سولې پروسې په اړه معلومات شريک کړي دي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ د رسنيو دفتر ويلي چې په دې ليدنه کې خليلزاد د افغان سولې په تړاو له طالبانو او پاکستاني چارواکو سره د خپلو وروستيو خبرو په اړه ولسمشر غني ته معلومات ورکړي دي.

د ارګ د خبرپاڼې پر بنسټ، خليلزاد ولسمشر ته ويلي چې له طالبانو سره په خبرو کې د پام وړ پرمختګ نه دی شوی او هيله لرو چې په دې برخه کې يوې پايلې ته ورسېږو.

خليلزاد کابل ته له خپل سفر مخکې بروکسل او اسلام آباد ته تللی و او د دغو هېوادونو له چارواکو سره يې ليدلي وو.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ١٤مه | د ۲۰۲۰ د فبروري درېیمه |۵۰۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۱۰ | ۱۳ | ۸ | ۱٦ | ۱۳ |
| -۳ | -۲ | -۱ | ۱ | ٦ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۵ | لمر ختل ۰٦:۵۱ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۰۳ | ماښام ۰۵:۲٤ | ماخوستن ۰٦:۵۰

## نړۍ



# عباس: د منځني ختیځ د سولې لپاره د امریکا نوی پلان پر نړیوالو تړونونو د تیري په مانا دی

۲

## جاپان په منځني ختیځ کې د تېلو د لېږد د خوندیتوب لپاره سیمې ته جنګي بېړۍ استولې دي



جاپان په منځني ختیځ کې د اوبو په حیاتي، خو کړکېچنو لارو د تېلو له خوندي تېرېدو سره د مرستې لپاره سیمې ته جنګي بېړۍ استولې دي.

جاپان هلیکوپټر ویجاړوونکې تاکانامي بېړۍ منځني ختیځ ته استولې، څو په عمان خلیج کې د سوداګریزو مالونو او تېلو د بېړیو ساتنه وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د جاپان د تېلو ۹۰ سلنه واردات له همدې لارې تر سره کېږي.

د دغه هېواد پوځي چارواکو ویلي چې له دې بېړیو سره ۲۰۰ پوځیان هم ملتیا کوي، څو د دوو الوتکو په وسیله هغه بېړۍ بدرګه کړي چې د جاپان بندرونو ته ځي.

د یادونې ده چې وروسته له هغې چې تېر کال په منځني ختیځ کې د امریکا او ایران تر منځ ناندرۍ زیاتې شوې، ورسره سم په سیمه کې د تېل وړونکو بېړیو امنیت ته هم ګواښونه ډېر شول. په پیل کې برېتانیا یوه ایراني بېړۍ د دې له کبله ونیوله، چې په خبره یې د سوریې هغو سیمو ته یې تېل لېږدول، چې د ملګرو ملتونو له خوا پرې بندیز لګول شوی دی. له دې وروسته په سیمه کې کړکېچ نور هم ډېر شو چې په غبرګون کې یې ایران هم د برېتانیا تېل وړونکې بېړۍ یرغمل کړه.

## تازه شمېرې: په چین کې د کرونا ویروس د قربانیانو شمېر ۳۰۴ ته رسېدلی

په چین کې د کرونا ویروس له کبله د وژل شویو کسانو شمېر تر ۳۰۰ اوښتی دی او په ډېرې چټکۍ د پراختیا په حال کې دی.

دا په داسې حال کې ده چې ډېرو هېوادونو د لومړنیو قضیو راپور ورکړی او د دغه ویروس د مخنیوي لپاره یې چین ته پر سفر بندیزونه لګولي دي.

د چین روغتیایي چارواکو تېره ورځ ناوخته وویل، چې لږ تر لږه ۳۰۴ کسان په دغه هېواد کې کرونا ویروس وژلي دي.

دوی دغه راز ویلي چې پر دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر هم نږدې ۱۵ زرو ته رسېدلی دی. له بلې خوا فلیپین هم ویلي چې یو تن یې چې د کرونا پر ویروس اخته و، د همدې ویروس له امله وژل شوی دی. دا له چین څخه بهر پر دغه ویروس د یوه انسان د مړینې لومړنۍ پېښه ده.

په ورته وخت کې روسیه، برېټانیا او سویډن هم د هغو هېوادونو په نوملړ کې شامل شوي چې د کرونا ویروس قضیې یې تازه ثبت کړې دي.

د یادونې ده چې له دې وړاندې د روغتیا نړیوال سازمان په ټوله نړۍ کې د دغه ویروس د خپرېدو د چټک بهیر له کبله بېړنی حالت اعلان کړی دی.

## نهادهای ناظر: افغانستان تنها کشوری است که بعد از چهار ماه نتوانسته‌است نتایج انتخاباتش را اعلان کند



با گذشت بیش از چهار ماه از برگزاری انتخابات ریاست‌جمهوری، از اعلام زمان دقیق نتایج نهایی این انتخابات خبری نیست. این در حالیست که انتخابات ریاست‌جمهوری افغانستان به تاریخ ششم ماه میزان برگزار شد و نتایج نخستین آن، پس از سه ماه در اول ماه جدی اعلام شد.

بربنیاد جدول زمان‌بندی انتخابات ریاست‌جمهوری، کمیسیون‌های انتخاباتی، نتایج این انتخابات را باید در روز پانزدهم ماه عقرب اعلام می‌کردند، اما کمیسیون‌های انتخاباتی تاکنون کارشان را تمام نکرده‌اند. شماری از نهادهای ناظر بر انتخابات، می‌گویند که افغانستان تنها کشور در جهان است که با گذشت بیش از چهار ماه هنوزهم نتوانسته‌است نتایج نهایی انتخاباتش را روشن سازد.


شماری از فعالان جامعهٔ مدنی نیز می‌گویند که به علت تأخیر در اعلام نتایج انتخابات ریاست‌جمهوری، چالش‌های سیاسی، ناامنی‌ها، بی‌کاری و ناداری در کشور بیشتر شده‌اند.

در همین حال، مادر یکی از سربازان جان باختهٔ ارتش می‌گوید، فرزندش که در روز انتخابات به آرزوی یک آیندهٔ بهتر رأی داد و نیز تأمین امنیت کرد، سه ماه پیش جان باخت و نتیجهٔ رأی‌اش را ندید.

این مادر می‌گوید که پسرش غورزنگ نام داشت و آرزو داشت ببیند که رأی او چقدر بر تعیین سرنوشت کشورش تأثیرگذار است: «پسرم اکنون جان خود را از دست داده‌است. او رأی داد که پادشاهٔ [رئیس‌جمهور] ما معلوم شود، صلح بیاید، آرامی بیاید، سرنوشت ما و مردم ما معلوم شود، اما نشد»!


## ژوند

## څو شېبې یوازیتوب غوره استراحت دی



که څه هم چې ارواپوهان وایي، یوازیتوب انسان له ډېرو ستونزو سره مخ کوي، خو تازه څېړنو ثابته کړې چې د ډېر وخت لپاره نه، بلکې څو شېبې یوازیتوب د انسان لپاره غوره استراحت کېدای شي او انسان ته د ارامۍ حس وربښي. په یوه تازه څېړنه کې چې په ۱۳۴ هېوادونو کې په ۱۸ زرو کسانو تر سره شوې، پکې راغلي چې یوازیتوب غوره استراحت دی. د دې څېړنې ډېری ګډونوالو ویلي، چې دوی هله ډېر راحت وي چې له ستړیا وروسته څو شېبې تنها واوسي. د څېړنې ګډونوالو ته نور انتخابونه هم ورکړل شوي وو چې پکې د کتاب لوستل، په طبیعي منظرو کې چکر او له ملګرو سره ناسته ولاړه هم شامل وو، خو په دې ټولو کې ګډونوالو د ستړیا او خستګۍ د لرې کولو لپاره څو شېبې تنهایي غوره لاره ګڼلې ده. د یادونې ده چې استراحت د انسان پر ورځنی فعالیت ژور اغېز کوي، هغوی چې ناراحته وي، ورځنی کارونه یې غیر منظم وي، نو د دې لپاره چې مغز مو ارام شي، ښه ده چې د ورځې په اوږدو کې څو شېبې یوازیتوب غوره کړئ.

## په ماشومتوب کې ژور خپګان په لوی عمر کې د زړه ناروغي پیدا کوي



په امریکا کې په یوه نوې څېړنه کې موندل شوي، هغه ماشومان چې په کوچنیوالي کې له روحي فشار، خپګان او سټرېس سره مخ شي، وروسته د وینې د لوړ فشار پر ناروغۍ اخته کېږي. څېړنې ثابته کړې، که د چا مور او پلار او یا یو هم له دوی څخه له ۵۵ کلنۍ وړاندې د وینې لوړ فشار ولري، ښایي اولادونه یې هم د وینې لوړ فشار ولري. خو دا څېړنه په حقیقت کې یوه نوې لاس ته راوړنه ده، چې پکې د ماشومتوب د دورې خپګان او سټرېس وروسته د وینې د لوړ فشار لامل کېږي. څېړنه دا هم وایي، هغه کسان چې مور او پلار یې د وینې لوړ فشار ونه لري، بیا هم ٦ سلنه احتمال شته چې د وینې پر لوړ فشار اخته شي، خو که (مور او پلار) دواړه د وینې فشار ولري، ۱۹ سلنه احتمال شته چې اولادونه یې د وینې لوړ فشار ولري.

خپله سوداګري د عزیزي بانک جاري حساب سره بدایه کړئ
• دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غیر دولتي انجوګانی او سفارتونه پرانیستلی شي.
• حساب په افغانیو/ امریکایي ډالرو/ یورو او انګلیسي پونډو پرانیستل کیدای شي.
• د پیسو په زیاتولو او ایستلو کوم لګښت نه راځي.
• د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتیایي پیغام خدمتونه
• د لویو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امریکایي ډالر/یورو/انګلیسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امریکایي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتندویه فیس څخه اړیني دي.
• د زیاتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زمونږ تر ټولو نږدې څانګې ته ورشئ او یا مونږ سره په 1515 شمیرې اړیکه ونیسئ.
عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af
www.azizibank.af 1515